# عقيدهداهل سنت
# والجماعتليكنه

شيخ

محمد بن صالح العثيمين رحمه الله

رواد الترجمة جمعية الربوة دار الإسلام

- قامت جمعية الدعوة والإرشاد بالربوة بمراجعة وتصميم هذا الإصدار.
- تتيح الجمعية طباعة الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.
- في حالة الطباعة يجب الالتزام بمعايير الجودة التي اعتمدتها الجمعية.

Telephone: +966114454900
Fax: +966114970126
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
ceo@rabwah.sa
www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## ◆ وړاندیز

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبى بعده، وعلى آله وصحبه،امابعد:

زمونږ شیخ فضیلة الشیخ محمد بن صالح العثیمین رحمه الله چی د مضبوطی اور قیمتی عقیدې متعلق څه مواد په اختصار سره را جمع کړی دي، نو دا رساله ما ) په طريقه د املاء سره (ټوله واوریدله، نو دامې په باب د توحید د الله تعالیٰ او د هغه لوئ الله د اسماء او صفاتو په بیان مشتمله ومونډله. دغه شان په ملائکو، منزل کتابونو، رسولانو، د آخرت ورز )قیامت (باندې د ایمان لرلو اور د تقدیر د خير او شر په باب کې هم ډیره بهترینه او مفیده مونده کړه

مصنف ډیر په بهتره طریقه هغه سه را جمع کړی او ذکر کړی دی چې هر طالب علم او مسلمان ورته حاجت لري په باب د خپل ایمان کې چې هغه په الله تعالیٰ ، د هغه په ملائکو ، د هغه په کتابونو ، دهغه په رسولانو، د قیامت په ورځ اور د تقدیر په خير او شر باندې ایمان لرل دي. او بیائ ددي سره هغه ډیر فوائد هم یو ځائ کړي دي چې د عقیدې سره تعلق لري چې دا فوائد په باب د عقیده کې لیکلے شوؤ ډیرو کتابونو کې نۀ مونډلے کیږی. نو الله تعالیٰ دي مصنف ته غوره بدله ورکړی ، علم او

هدایت دي ورته نورهم زیات کړی او دده په دي کتاب او نورو ټولو کتابونو سره دي خلقوته نفع ورکړي او الله تعالیٰ دي مونږه، مصنف اوزمونږ ټول ورونه هدایت یافته وګرزوي کوم چې دالله تعالیٰ طرف ته په بصیرت سره دعوت کوونکي دي، یقیناً الله تعالیٰ اوریدونکے او نزدي دے

**الفقیر الی الله تعالیٰ:**

**عبد العزیز بن عبد الله بن باز رحمه الله**

**د سعودي عربستان مفتی**

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، ولا عدوان إلا على الظالمين، وأشهدُ أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له الملك الحقّ المبين، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله خاتم النبيين وإمام المتقين، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان إلى يومِ الدين، أما بعد:

يقيناً الله تعالیٰ خپل رسول جناب محمد صلى الله عليه وسلم (په هدايت او حق دين باندې راليږلے دے۔ چې د ټول عالم د پاره رحمت د تمامو عمل کوؤنکو د پاره يوه نمونه او په تمامو بندګانو باندې حجت دے ددې نبی په ذريعه باندې او په هغه کتاب او حکمت) سنت نبوی (سره الله تعالی داسې بيان او وضاحت وکړو چې په هغې کې په پوره طور د بندګانو داحوالو اصلاح موجوده او د دوی په دين او دنيا کې د صحيح عقائدو برابر اعمالو، بهترين اخلاقو او اعلیٰ آدابو استقامت او برابر والے پروت دے، نو خپل امت ئ په يو سپين او واضح دين باندې پريخودلو چې د هغې شپه هم د ورزې پشان ده ددې نه ګڅيدونکې انسان به ضرور هلاکت سره مخامخ کيږي۔ په دغه دين باندی ئ خپل هغه امت روان کړو کوم چې د الله او د هغه د رسول حکم منونکې دي، دوي په ټول مخلوق کې) بعد الانبياء (غوره خلق دي، چې صحابه کرام) رضى الله عنهم (دي، تابعين) رحمهم الله (دي او بيا هغه خلق چې د دوي تابعداری ئ په ښائسته طريقه کړې ده۔ دوی په خپلو عقائده ، عباداتو، اخلاقو او آدابو کې په شريعت عمل وکړو او د نبی صلى الله عليه وسلم په سنتوئ منګولې ولګولې او دغه سنت ئ د خپل

ژامې په غاخونو کلک راونیول) مضبوط عمل ئ پرې وکړو (نو دوی هغه ډله وګرزيدله چې به په حق باندې قائمه او غالبه وي، او هغه څوک چې د دوی مدد پريګدي يا ئ مخالفت کوي نو دويته هيڅ ضرر نشي ورکولے تر دي پورې چې د الله تعالیٰ امر) قيامت (راشي او دوي به په دغه حال )استقامت سره (وي

الحمد لله مونږ د دوي په آثارو پسې، او په هغه سيرت پسې روان يو چې د کتاب او سنت نه ئ تاييد شودے دے، دا خبره مونږه د الله تعالیٰ د نعمت د اظهار په طور کوؤ او د هغه منهج د بيانولو د پاره چې هر مؤ من ته پرې عمل واجب دے مونږ د الله تعالیٰ نه سوال کوؤ چې مونږ او زمونږ مسلمانان ورونه په کلکے وينا سره په دنيا او آخرت کې کلک ) مضبوط ( کړي، او مونږ ته د خپل طرف نه خاص رحمت را وبخي، يقيناً دغه الله وهاب) بخشش ورکوؤنکے (ذات دے.

ددي موضوع د اهميت او پدي باب کې د خلقو د آراؤ او خيالاتو د انتشار او تفريق په وجه ما دا خوښه کړه چې په اختصار سره زمونږ عقيده چې د اهل السنة والجماعة عقيده ده ، وليکم ، او هغه عقيده دا ده چې په الله تعالیٰ باندې ايمان ، د هغه په ملائکو ، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د قيامت په ورز او په تقدير د خير او شر باندې ايمان راوړل دي زه د الله تعالیٰ نه سوال کوؤم چې دا عمل خالص د خپل مخ د پاره وګرزوي، چې د هغه د رضا موافق او د هغه د بندګانو د پاره فائده مند وي

## ◆ زمونږ عقيده:

زمونږ عقيده

په الله تعالیٰ باندې ایمان ، د هغه په ملائکو ، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، په ورز د قیامت او په تقدیر د هغه باندې که د خیر وی او که د شر وي، ایمان لرل

نو مونږ د الله تعالی په ربوبیت باندې ایمان لرو، یعني دا چې الله تعالی رب، خالق ، مالک او د ټولو کارونو تدبیر او انتظام کوؤنکے دے.

او مونږ د الله تعالی په الوهیت باندې ایمان لرو چې صرف هغه حق اله)د بندګۍ لائق او حقدار (دے او هر معبود چې د الله تعالی نه سوا وي هغه باطل دے.

دغه شان مونږ د الله تعالی په نومونو او صفتونو باندې ایمان لرو چې یقینا د دغه الله د پاره ښائسته) خکلې (نومونه او ډیر کامل او اوچت صفتونه دي

په دې باب کې مونږ د الله تعالی په وحدانیت) یووالی (باندي ایمان لرو، یعنی دا چې بے شکه نه خو د الله تعالی سره د هغه په ربوبیت کې کوم شریک ) برخه دار (شته او نه د هغه په الوهیت کې او نه د هغه په نومونو او صفتونو کې الله تعالی فرمائی رب دے د اسمانونو او ځمکې او د هغه څه چې ددې دواړو په مینځ کی دي، پس خالص د هغه عبادت کوه او کلک شه د هغه د بندګۍ د پاره، آیا ته پیژنې د الله دپاره څوک هم نام او) هم صفت )سورت مریم(65:

او مونږ په دې ایمان لرو چېالله تعالی، نیشته دے حقدار د عبادت سیوا د هغه نه، همیشه ژوندے او انتظام کوؤنکے ) د ټول عالم (دے، نه رازي په الله تعالی باندې پرکالی او نه خوب، د هغه په اختیار کې دي هغه

څه چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوک دے هغه کس چې سفارش وکړي د هغه په نزد مګر د هغه په اجازت) به ئ کوي (هغه پوهه دے په هغه څه چې د دوي نه مخې ته دي او په هغه څه چې د دوينه روستو دي او دوي نشي راګيرولے د علم د هغه نه ، مګر هغه څه چې الله تعالی ئ او غواړي، فراخه ده کرسي د الله تعالی د اسمانونو او ځمکې نه، او نه ستړے کوي هغه لره ساتنه) حفاظت (د دې دواړو ) اسمانونو او ځمکې (او هغه الله پورته او لوئ ذات دےسورت بقره.255:او مونږ په دې ايمان لرو چېخاص الله تعالی هغه ذات دے چې نيشته دے حقدار د بندګۍ سوا د هغه نه، عالم دے په هر پټ او ښکاره باندې خاص هغه بې حده مهربان او هميشه رحم کوؤنکے دےخاص الله هغه ذات دے چې نيشته دے حقدار عبادت سيوا د هغه نه، هغه بادشاه دے، پاک ذات دے، سلامتيا ورکوؤنکے ، امن ورکوؤنکے ، حفاظت کوؤنکے، غالب، زور آور او لوئ ذات دے ، پاک دے الله تعالی د هغه څه نه چې دا خلق ئ ورسره شريکان کويخاص الله هغه ذات دے چې پيدا کوؤنکے، جدا جدا شکلونو جوړوؤنکے او تصوير ورکوؤنکے دے خاص د هغه د پاره نومونه او صفتونه دي ښائسته، پاکي وائي د هغه د پاره هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي او دغه الله غالب حکمتونو والا دےسورت حشر.24 -22:او مونږ پدې ايمان لرو چې بے شکه د الله تعالی په اختيار کې بادشاهی د اسمانونو او ځمکې دهپيدا کوي الله تعالی هغه څه چې خوښه ئ شي، وربخی چاته چې وغواړی زنانه اولاد، او وربخی چاته چې وغواړي نارينه اولاداو يا ورته دواړه نارينه او زنانه ورکړي، او چالره چې وغواړي نو شنډئ وګرزوي، يقينا دغه پوهه ذات

قدرت والا دےسورت شوری50-49 :او مونږ په دې ایمان لرو چېد الله په خبر هېڅ شی نشته او هغه اورېدونکی او لیدونکی دید هغه په اختیار کې کنجیانې دې د اسمانونو او ځمکې، فراخه کوي رزق چالره چې وغواړي او تنګوی ئ، یقینا الله تعالی په هر څیز باندې علم لرونکے دےسورت شوری : .11-12او مونږ په دې ایمان لرو چېاو نیشته دے هیڅ زنده سر پدې ځمکه کې مګر د الله تعالی په ذمه د هغې رزق دے او الله پوهیګې د هغې د اوسیدو په ځائ باندې او د هغې د سپارختنې په ځائ باندې، دا ټول په کتاب ښکاره )لوح محفوظ (کې موجود دیسورت هود6 :او مونږ په دې ایمان لرو چېاو خاص د الله تعالی سره د غیب ) پټو څیزونو او احوالو (کنجیانې دي، چې د هغه نه غیر ئ هیڅوک نه پیژنې، او الله پوهه دے په هغه څه چې په اوچه ځمکه کې دي او دریاب کې، او نه را غورزیګی کومه پانړه) د ونې (مګر هغه پرې عالم دے، او نیشته کومه دانه) د تخم (په تیارو د ځمکه کې او نه کوم لوند او نه وچ څیز مګر) دا ټول (په کتاب ښکاره ) لوح محفوظ (کې دیسورت انعام.59 :او مونږ په دې خبره هم ایمان لرو چې ، بی شکه الله تعالیخاص د الله تعالی سره علم د قیامت دے، او هغه باران وروي، او الله پوهه دے په هغه) بچې او د هغې په احوالو (چې په رحمونو) بچه دائ (کې وي، او هیڅ نفس پدې نه پوهیږي چې سبا به هغه څه کویاو هیڅ نفس په دې نه پوهیږي چې په کومه ځمکه به مرکیږي یقیناالله تعالی پوهه خبردار دےسورت لقمان.34:

او مونږ پدي خبره ايمان لرو چې يقينا الله تعالی کلام) خبرې (کوي د څه په باره کې ئی چې خوښه شي، کله ئ چې خوښه شي او په کومه طريقه چې ئ خوښه شي

او خبرې وکړي الله تعالی د موسی عليه السلام سره خبري کولسورت نساء.164:او هر کله چې راغلو موسی عليه السلام د پاره د وقت مقرر زمونږ، او خبري وکړي د هغه سره رب د هغهسورت اعراف.143 :او مونږ آواز وکړو هغه) موسی عليه السلام (ته، د طور غر د ښي اړخ نه او هغه مونږ ځان ته رانزدې کړے وو رازدار۔)په داسې حال کې چې د راز خبرې مو ورسره کولې(سورت مريم.52 :او مونږ په دې ايمان لرو چېکه چرته درياب سياهی شي دپاره د ليکلو د کلماتو د رب زما، نو خامخا به درياب زما د رب د کلماتو ختميدو نه مخکې ختم شيسورت کهف.109:او که چرته پدي ځمکه کې دا ټولی ونې قلمونه شي او سمندر سره د هغې د ختميدو نه روستو نورې اووه سمندرې) د سياهی په طور (زياتې شي، نو د الله تعالی کلمات) خبرې (به ختمې نشي، يقينا الله تعالی زور آور حکمتونو والا دےسورت لقمان.27:او مونږ پدي خبره ايمان لرو چې يقينا د الله تعالی کلمات ډير پوره دي د يو خبر د ريشتينوالی په اعتبار )يعنی د الله کلمات په خبر ورکولو کې پوره ريشتيا دي (په احکامو کې د عدل نه ډک دي او په خبرو کې د حسن نه ډک دیالله تعالی وايي:او پوره ده هره کلمه) خبره (د رب ستا په اعتبار د ريشتيا او په اعتبار د عدل) انصاف (سرهسورت انعام.115:او څوک دے ډير ريشتونے د الله تعالی نه په خبرو کېسورت نساء.87 :او مونږ پدي خبره ايمان لرو چې قرآن کريم د الله تعالی کلام دے،

پدې باندې ئ په حق سره خبرې کړي دي، او بیائ دغه کلام جبریل علیه السلام ته پیش کړے دے، نو جبریل بیا په زړه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړے دےورته اووایه) اے نبی (چې نازل کړے دے دي قرآن لره جبریل علیه السلام ستا د رب طرف نه په حق سرهسورت نحل : 102.او یقینا دا قرآن نازل کړے شوے) کتاب دے (د رب العالمینښکته راوړے دے دي لره روح امانتدار ) جبریل علیه السلام(ستا په زړه باندې، دې دپاره چې شي ته د ویره ورکوؤنکو نهیه ژبه عربۍ واضحه باندیسورت شعراء195-191:او مونږ پدې باندې ایمان لرو چې بې شکه الله عزوجل په خپل مخلوق باندې د ذات او صفاتو په لحاظ سره پورته دے، د وجي ددي قول د الله تعالی نه:او دغه الله پورته او لوئ ذات دےسورت بقره255:،او دا قول د الله تعالی:او دغه الله تعالی زور آور دے دے، پورته دے په خپلو بندګانو باندې، او دغه الله حکمتونو والا خبردار دےسورت انعام18:او مونږ په دې ایمان لرو چېپیدا کړې ئ دي اسمانونه او ځمکه په اندازه د شپږو ورځوکې بیا الله تعالی پورته شوے دے په عرش باندې، انتظام کوي د ټولو کارونوسورت یونس.3:

د الله تعالی په عرش باندې استواء) پورته والے (د ذات په لحاظ سره دے او دا یو خاص علو) پورته والے (دے چې د الله عزوجل د جلال او عظمت پورې خاص دی، ددي په کیفیت باندې د هغه نه سیوا هیڅوک نه پوهیږي.

او زمونږ پدې خبره هم ایمان دے چې د الله تعالی په عرش باندې پورته والي سره سره هغه دخپل مخلوق سره هم په داسې طور دے چې د دوي په

احوالو عالم دے، د دوي اقوال) خبري (اوري او د دوي ټول کارونه ويني، د مخلوق د تمامو امورو تدبير) انتظام (کوي، فقيرانو ته رزق ورکوي، د بي کسو کارونه جوړوي، چې چا ته ئ خوښه شي نو بادشاهی ورته ورکوي او د چا نه ئ چې خوښه شي نو تري را کاږي ئ ) اخلي ئ(، چاته چې او غواړي عزت ورکوي او چې چا ته او غواړي نو ذلت ورکوي، د هغه په لاس کې ټول په ټوله خير دے، او هغه په هر څيز باندې قدرت لرونکې دے

او چې د چا داسې شان وي نوهغه د خپل مخلوق سره هم دے اګر که هغه د دوي د پاسه په عرش باندي استوا هم کړې ده حقيقتاً

د الله په څبر هيڅ شی نشته او هغه اورېدونکی او ليدونکی ديسورت شورى.11:او مونږ په جهميه ډله کې د حلول واله ډلې) حلوليه (او د دي نه غير نورو ګمراه ډلو پشان داسې نه وايو:چې الله تعالى په ځمکه کې د خپل مخلوق سره دے) يعنې د الله تعالى په مخلوق کې د حلول د باطلې عقيدې نه مونږ بې زاره يو(او زمونږ دا عقيده ده چې څوک ددې حلول د عقيدې قائل وي نو هغه کافر او يا ګمراه انسان دے، ځکه چې هغه د الله تعالى د پاره هغه وصف بيان کړو چې د نقائصو او عيبونو وصف دے او د الله تعالى د شان سره لائق نه دے۔ ) دا د الله عزوجل دلوئ شان سره نا خائيري(زمونږ په دې خبره هم ايمان دے چې مونږ ته د الله رسول صلى الله عليه وسلم خبر راکړے دے چې کله د شپې آخرى دريمه حصه باقي پاتې شي نو هره شپه الله تعالى) د خپل شان مناسب (اسمان د دنيا ته نزول کوي۔ او فرمائي:څوک څما نه دعا غواړي چې ورته ئ قبوله کړم، څوک زمانه سوال ) د کوم څيز غوښتنه (کوي چې ورته ئ ورکړم او څوک زما نه بخنه غواړی

چې زه ورته) د ګناه (بخنه وکړم؟او مونږ په دې باندې ايمان لرو چې يقينا الله سبحانه وتعالى به د قيامت په ورځ د بندګانو په مينځ کې د فيصلې د پاره راځي )سنګه چې د هغه د لوئ شان سره لائق ده (د وجې د دې قول د الله نه:هيچرې داسې نه ده ، کله چې وټکولې شې ځمکه په پوره هموارېدلو سرهاو را به شي ستا رب او ملائک صفونههيچرې داسې نه ده ، کله چې وټکولې شې ځمکه په پوره هموارېدلو سره، او را به شي ستا رب او ملائک صفونه، او را به وستے شي جهنم په دغه ورز نو نصيحت به اخلي) منکر ( انسان، او دکوم ځائ نه دي دده د پاره نصيحت اخستل؟ "يعنى اوس خو په نصيحت اخستلو کار نه کيږيسورت فجر.23-21:زمونږ په دې خبره ايمان دے چې بې شکه الله تعاليډير ښه کوؤنکے دے د هغه کار چې اراده ئ کويسورت بروج.16:مونږ په دې خبره هم ايمان لرو چې د الله تعالى اراده په دوه قسمه ده اراده کونيه:پدې سره هغه څه واقع کيږي چې الله تعالى ئ اراده کوي او ددې سره دا لازم نه ده چې دغه کار دې هغه ته محبوب هم وي، او دا هغه اراده ده چې په معنى د مشيئت سره ده، لکه د الله تعالى دا قولاو که غوښتلې وې الله تعالى نو دوي به جنګ نه وو کړے، ليکن الله تعالى کوي هغه څه چې اراده ئ اوکړيسورت بقره:الآية253،که چيرې الله پاک ستاسو د ګمراه کولو اراده لري هم هغه ستاسو رب ديسورت هود : .34اراده شرعية :ددې سره واقع کيدل د مراد لازم نه دي ، خو دا اراده چې د چا په باره کې واقع کيږي نو الله تعالى ته محبوب) خوښ (وي، لکه د الله تعالى ارشاد دے:او الله تعالى دا اراده کوي چې مهرباني را وګرزوي په تاسو ) توبه مو قبوله کړي(سورت نساء.27 :زمونږ په دې خبره هم ايمان دے چې

د الله تعالی مراد که کوني دے او که شرعي نو دا د هغه د حکمت تابع دے۔ نو هر هغه څه چې هغه ئ کوني فيصله فرمائيلې ده يا ئ بندګان شرعاً په هغې سره په بندګئ مکلف کړي دي، نو دا د حکمت په وجه دي او د حکمت الهي موافق دي، برابره خبره ده که مونږ په هغې باندې پوهيږو او که زمونږ عقلونه د هغې د پوهې نه قاصر وي، ځکه الله تعالی فرمائي:آيا نه دے الله تعالی ډير غوره فيصله کوؤنکے د فيصله کوؤنکو نه؟ ولې نه دے بلکه الله تعالی ډير غوره فيصله کوؤنکے دےسورت تين.8 :او څوک دے ډير ښائسته )بهتر (د الله تعالی نه په اعتبار د فيصلې سره ، د پاره د هغه قوم چې يقين کويسورت مائده.50 :زمونږ په دې خبره هم ايمان دے چې الله تعالی د خپلو دوستانو) مومنانو (سره محبت کوي او هغوي د الله تعالی سره محبت کوي۔ لکه د الله تعالی ارشاد دےته اووايه اے نبی !که چرته تاسو د الله تعالی سره محبت کوئ نو) شرط دا دے چې (زما تابعداری وکړئ، نو الله تعالی به ستاسو سره محبت وکړيسورت ال عمران.31 :نو زر دے چې الله تعالی به داسې قوم راولي چې الله تعالی به هغوي سره محبت کوي او دوي به د الله تعالی سره محبت کويسورت مائده.54 :او الله تعالی محبت کوي د صبر کوؤنکو سرهسورت ال عمران.146:او انصاف کوئ، يقينا الله تعالی محبت کوی د انصاف کوؤنکو سرهسورت حجرات.9:او احسان ) په اخلاص سره او اتباع د سنت سره ښائسته عمل (کوئ بې شکه الله تعالی محبت کوي د داسې ښائسته عمل کوؤنکو سرهسورت بقره.195:زمونږ په دې خبره هم ايمان دے چې الله تعالی کوم اعمال او اقوال مشروع ګرځولي دي نو په هغې رضا کيږي او چې د کومو نه ئ منع کړې ده نو هغه

بدګنړي۔ لکه فرمائی.که تاسو کفر کوئ، نو الله تعالی بې پرواه دے ستاسو نه) څه حاجت ستاسو ایمان او عبادت ته نه لري (او هغه د خپلو بندګانو په کفر نه رضا کیږي ) نه ئ خوښوي (او که تاسو شکر کوئ نو الله تعالی به رضا کیږي ستاسو نه .سورت زمر7:لیکن بد ګنړلي دي الله تعالی پورته کیدل د دوي ) د پاره د جهاد (نو دوي ئ منع کړل او اووئیلے شول دوي ته، کینئ سره د کیناستونکو نهسورت توبه.46:او زمونږ پدي خبره هم ایمان دے چې الله تعالی د هغه چا نه رضا کیږي ځوک چې ایمان والا دي او د سنت مطابق اعمال کویراضي شوے دے الله تعالی د دوینه او دوي راضي شوي دي د هغه نه، دا) بدله (د هغه چا د پاره ده چې ځوک ویره کوي د خپل رب نهسورت بینه.8:او زمونږ په دې خبره هم ایمان دے چې یقیناً الله تعالی غضب کوي په هغه چا چې ځوک ددي غضب مستحق وي، چې هغه کافران وغیره دي لکه الله تعالی فرمائی:هغه خلق چې ګمانونه کوي په الله تعالی باندې بدګمانو نه په دوي باندې دې وي آفت) حادثه او عذاب ( ناکاره، او غضب کړے دے الله تعالی په دوي باندېسورت فتح.6 :لیکن هغه ځوک چې هغه د کفر قبلولوته سینه پرانیستله، نو په دوي باندې غضب دے د الله تعالی د طرف نه او ددوی د پاره عذاب لوئ دےسورت نحل : 106.او زمونږ پدي خبره باندي ایمان دے چې یقیناً د الله تعالی د پاره صفت د" وجه "شته چې الله ذوالجلال پري موصوف دے لکه فرمائی:او باقی به پاتي کیږي مخ د رب ستا چې خاوند د لویئ او د عزت دےسورت رحمن 27.:او زمونږ پدې هم ایمان دے چې بې شکه د الله تعالی د پاره دوه عظیم او کریم لاسونه دی) ځنګه چې د هغه د لوئ شان سره لائق دي(لکه چې

الله تعالی فرمائی بلکه دواړه لاسونه د الله تعالی فراخه دي، خرچ کوي څنګه چې د هغه خوښه شيسورت مائده.64 :او دي خلقو) مشرکانو (قدر نه دے کړے د الله تعالی لائق قدر د هغه، او ځمکه به ټوله د هغه په قبضه) موټی (کې وی د قيامت په ورز باندې او اسمانونه به را انغختي شوي وي د هغه په خي لاس کي، پاک دے الله تعالی او پورته دے د هغه څه نه چې دا خلق ورسره کوم شريکان جوړويسورت زمر.67 :او زمونږ پدي خبره ايمان دے چې د الله تعالی د پاره دوه حقيقی سترګي دي، ځکه چې الله تعالی فرمائی )نوح عليه السلام ته(اوجوړوه کشتۍ زمونږ د سترګو مخامخ او زمونږ په وحي سرهسورت هود .37:او نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي:د الله تعالی حجاب) د مخلوق نه پرده (نور دے، که دغه د نور پرده لري کړي نو تر څومره مخلوق پوری چې د هغه نظر رسيږي نو د الله تعالی د مخ پلوشې به ئ وسوزوي۔)"يعنی د الله سبحانه وتعالی د مخ پلوشي دومره تيزی دي که چرته د هغې د مخې نه ئ د نور حجاب لري کړو نو تمام مخلوقات د دغه پلوشو برداشت نشي کولے، بلکه وبه سوزي(د تمام اهل السنة والجماعة پدي اجماع ده چې د الله سبحانه وتعالی سترګې دوه دي۔ ددې خبرې تائيد د نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه قول کوي چې کوم ئ د دجال په باره کې فرمائيلے دے:چې هغه اعور )يعنی يوي سترګې والا دے، ځکه چې بله سترګه ئ د انګور پشان بوټه راوتې ده او خرابه ده (او ستاسو رب اعور نه دے.او مونږ په دي خبره هم ايمان لرو چې ، بی شکه الله تعالی:نشي را لاندې کولے الله تعالی لره نظرونه) سترګې (او هغه الله تعالی خو را لاندې کوي ټول نظرونه) د مخلوق (او الله تعالی ډير باريک بين

خبردار ذات دےسورت انعام.103 :زمونږ پدي خبره هم ایمان دے چې مؤمنان به خپل رب د قيامت په ورز ويني او دهغه) سبحانه وتعالی (دیدار به کوي۔ لکه الله تعالی فرمائی:څه مخونه) د مومنانو (به په دغه ورز) د قيامت (ترو تازه وياو خپل رب ته به کتونکي) دیدار کوؤنکي (ويسورت قيامه.22-23 :زمونږ پدي خبره هم ایمان دے چې د الله تعالی د صفاتو د کمال په وجه د هغه هيڅ مثال نيشته، لکه الله تعالی فرمائی:د الله په څېر هيڅ شی نشته او هغه اورېدونکی او ليدونکی ديسورت شوری.11 :او مونږ په دې ایمان لرو چېپه الله تعالی باندې څه پرکالي او خوب نه رازيسورت بقره.255 :د حيات او قيوميت د کمال په وجه

زمونږ پدي خبره هم ایمان دے چې الله تعالی د خپل عدل د کمال په وجه په هيڅ چا هم ظلم نه کوي۔ او دا چې الله تعالی په بندګانو باندې د خپلې نګهبانۍ او احاطې د کمال په وجه د خپلو بندګانو د اعمالو نه غافل )بې خبره (نه دے

او زمونږ پدي خبره ایمان دے چې د الله تعالی د علم او قدرت د کمال په وجه هغه لره په ځمکه او اسمانونو کې هيڅ نشي عاجز کولے ۔ لکه الله تعالی فرمائی:يقيناً حکم د الله تعالی چې کله اراده وکړي د يو څيز ) کار (هغه داوي چې ورته وائی اوشه نو هغه اوشيسورت يس.82 :

د الله تعالی د قوت د کمال په وجه د هغه سره کوم ستړي والے او سستی نه پيوسته کيږي۔ لکه الله تعالی فرمائی:

او يقيناً پيدا کړي دي مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې په مينځ دواړو کې دئ، په اندازه د شپږو ورځو کې، او ندے رسيدلے مونږ ته څه ستړي والے.سورت ق.38 بغير د ستړي والي او عاجزئ نه

زمونږ پدې هم ايمان دے چې مونږ د الله تعالی د پاره هغه اسما او صفات ثابتوؤ کوم چې الله تعالی د خپل زان د پاره ثابت کړي دي او يا ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم ثابت کړي دي، ليکن پدې باب کې مونږ د دوؤ لويو غلطو نظرياتو نه برات کوو.چې يو تمثيل دے او بل تکييف:

تمثيل:دا دے چې يو تن په زړه کې يا په ژبه داسې او وائی چې، د الله تعالی صفات د مخلوق پشان دي) يعنی مونږ به د الله تعالی د صفاتو که استوا علی العرش ده، که يد، ساق، رجل، اتيان، غضب، رحمة، ضحک وغيره هر قسم صفات وي په ظاهر به ئ ايمان راوړو او ددي هيڅ مثال به د مخلوق سره نه ورکوؤ.مترجم(

تکييف:دا دے چې يو تن په خپل زړه کې يا ژبه باندې دا او وائی چې د الله تعالی د صفاتو کيفيت داسې او داسې دے.) بلکه د صفاتو په کيفياتو باندې الله تعالی عالم دے او زمونږ به ئ ظاهر ايمان وي او حقيقت به ئ الله تعالی ته سپارو او ددي کيفياتو باره کې سوالات او تپوسونه کول د اهل البدع والاهوا کار دے

او زمونږ پدې ايمان دے چې هر هغه څه به د الله تعالی نه نفی کوؤ کوم چې الله تعالی د خپل زان نه نفي کړي دي او يا تري رسول الله صلی الله عليه وسلم نفي کري دي، او دغه نفی به متضمن وي داسې اثبات لره کوم چې ددې په ضد کې کمال وي.) يعني الله تعالی د خپل ځان نه د کمزورئ يا

ضعف يو صفت نفي کړي نو ددي په ضد کې به د کمال يو لوئ صفت الله تعالى لره ثابتيږي لکه مثلاً الله تعالى د زان نه خوب او پرکالى يا غفلت نفي کړے دے، ځکه چې په الله تعالى کئ کمال د حيات، قيوميت، علم ،قدرت او کمال د احاطې دے۔ او مونږ به سکوت) خاموشى (کوؤ د هغه څه نه چې الله تعالى او د هغه رسول تري سکوت کړے دے۔مترجم(

زمونږ عقيده دا ده چې په دغه طريقه باندې تللى )او دغه مخکې بيان شوې عقيده اختيارول (فرض دي، چې ددې نه خلاصے نيشته ، ځکه چې کوم صفات چې الله تعالى د خپل زان د پاره ثابت کړي دي او ياځ د خپل زان نه نفى کړي دي، نو دا هغه خبر دے کوم چې الله سبحانه وتعالى د خپل ځان په باره کې ورکړے دے او دغه الله سبحانه وتعالى په خپل نفس باندې ډير اعلم دے او په وينا کې ډير ريشتونے دے او خبرئ ئ ډيري ښائسته دي، او بندګان د هغه علم پخپله احاطه کې نشې راوستلے۔او هغه صفات او نومونه چې د هغه رسول صلى الله عليه وسلم ورله ثابت کړي دي او ياځ ترې نفې کړي دي نو دا هغه خبر دے چې ددې خبر مونږ ته هغه شخصيت) محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم (راکړے دے کوم چې پخپل رب باندې د ټولو خلقو نه زيات اعلم، د مخلوق ډير خير خواه، په خلقو کې ډير ريشتونے او ډير فصيح وو۔نو د الله تعالى او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم په کلام کې د علم ، صدق او بيان کمالات دي ، نو ددي په رد کولو کې زمونږ د پاره هيڅ عذر نيشته او نه ددې په قبلولو کې څه تردد او شک پکار دے

**په باب د صفاتو کې کتاب او سنت په ظاهر جارى کول:**

هر هغه څه چې د دینه مخکې مونږ کوم د الله تعالی صفات تفصیلی یا اجمالی، په طور د اثبات یا په طور د نفي پیش کړل نو پدي کې مونږ د خپل رب په کتاب ) قرآن مجید (او د خپل نبی صلی الله علیه وسلم په سنتو اعتماد کوؤنکی یو۔ او په هغه لاره تلونکی یو چې زمونږ د امت سلف صالحین او د هغوي نه بعد پری د هدایت امامان تلونکي وو.

زمونږ پدي باب کې دا عقیده ده چې ددې متعلق وارد د کتاب او سنت نصوص پخپل ظاهر جاري کول واجب) فرض (دي، او دا به پخپل حقیقت حمل کیږی کوم چې د الله عزوجل د لوئ شان سره لائق دیاو مونږ برات او بیزاری ) د لاتعلقئ اعلان (کوؤ د هر هغه تحریف کوؤنکو د غلطې لارې نه چې دغه صفات ئ هغه طرف ته اړولي دي ) د باطل علم کلام یا فسد تاویلاتو په وجه (چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ئ اراده نه ده کړي۔)یعنی دهغه متکلمین او باطل پرستو د عقیدې نه برات فرض دے چا چې په اسما او صفات الهی کې باطل تاویلات کړي دي او داسي تحریفات ئ کړي دي چې د الله او رسول د مراد نه خلاف مرادونه ئ ترې اخذ کړي دي، لکه استوی په معنی د استولیٰ او غلبې یا ید په معنی د قدرت سره اخلی چې دا یو باطل او د الله او رسول د مراد نه خلاف تاویل بلکه تحریف دےاو مونږ د هغه معطلینو د طریقې او لارې نه هم برات کوؤ چا چې دغه صفات د خپل مدلول او هغه مراد نه معطل کړی دي کوم چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم مراد کړي دي۔ او د هغه غالینو د لارې نه هم زمونږ برات دے چا چې دغه صفات په تمثیل حمل

کړي دي او یا ئ د هغې د مدلول د پاره د تکییف) کیفیت بیانولو (تکلف کړے دے۔ مترجم(

زمونږ په علم یقینی سره پدې خبره علم دے چې هر هغه څه چې د الله تعالی په کتاب او یا د هغه د نبی صلی الله علیه وسلم په سنت کې راغلي دي نو هغه حق دي او د یو بل سره ئ څه تناقض نیشته۔ ځکه چې الله تعالی فرمائی:آیا دا خلق ژور سوچ نه کوي په قرآن کې؟ او که چرته دا قرآن د الله نه غیر د بل چا د طرف نه وے نو خامخا به دوي مونډلے وے په دي کې اختلاف) تناقض (ډیرسورت نساء.82 :ځکه چې په خبرونو ورکولو کې تناقض خو د یو بل تکذیب کولو لره مستلزم وي او دا کار د الله تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو ورکولو کې محال او ناممکن دے.چا چې داسی دعوه وکړله چې د الله تعالی په کتاب یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت کې او یا دواړو پخپل مینځ کې تناقض دے نو دا دعوی ئ د خپل ناکاره قصد او د زړه د کوږ والي په بنیاد کړئ ده۔ نو داسي ناکاره انسان دي الله تعالی ته توبه وکړي او د خپل کږ لیچ او ګمراهی نه دي زان وباسي۔ او چاته چې په زړه کې د الله تعالی په کتاب یا د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په سنت او یا ددي دواړو په مینځ کې د تناقض وهم راغلو نو دا وهم یا خو د ده د قلت علم ) د علم د کموالي (په وجه رازي، یا به دده د فهم قصور وي او یا با دده په تدبر کې تقصیر) کوتاهی (وي۔ نو دا انسان دي د علم تالاش وکړی او په تدبر کې دې کوشش وکړي تردي پوري چې ده ته صحیح حق واضح شی۔ او که بیا هم ده ته خبره واضحه نشی نو بیا دي دا معامله یو عالم ته وسپاري او د خپل توهم نه دي ځان بند کړی،

او داسي خبره دې وکړی لکه څنګه چې د مضبوط علم خاواندان ئ کوي ، چې)یعنی مونږ په دې باندې ایمان راوړے دے، چې دا قول زمونږ د رب د طرف نه دي (سورت ال عمران.7 :

او پدي خبره دي ځان پوهه کړي چې په کتاب او سنت کی هیڅ تناقض نیشته او نه ددي دواړه په مینځ کې شته او نه پکې څه اختلاف شته.

**فصل ـ په ملائکو باندې ایمان:**

زمونږ د الله تعالی په ملائکو باندې ایمان دے او دا ملائک داسې دیدوي د الله تعالی عزتمند بندګان دي.دوي د الله تعالی د وینا نه وړاندې والے نه کوي او د الله تعالی په حکم باندي عمل کویسورت انبیاء.27-26 :دا ملائک الله تعالی پیدا کړی دي ، نو دوي د الله تعالی د عبادت پابندي کوي او د هغه اطاعت نه منقاد دي۔ لکه الله تعالی فرمائی:دوي لوئي نه کوي د الله تعالی د عبادت نه او نه) ئ د عبادت نه (ستړې کیږي پاکي وائی د الله تعالی د پاره د شپې او د ورځې او سستی نه کویسورت انبیاء.20-19 :

دا ملائک الله تعالی زمونږ نه په پرده) حجاب (کې کړي دي نو مونږئ نشو لیدلې، او کله ئ الله تعالی د خپلو بعض بندګانو د پاره را ښکاره هم کړي، لکه جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم،جبریل علیه السلام لره د هغه په اصل صورت کې لیدلے ووچې شپږ سوه (600) وزې ئ وې او د اسمان کنارې ئ پټې کړې وې دغه شان جبریل علیه السلام، مریم علیه السلام ته د پوره بشر په صورت کې راغلے ووچې مریم علیه السلام د هغه سره اوهغه و بي بي مریم سره خبرې وکړلې یوځل جبریل علیه السلام د جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې په یو داسې وخت کې

حاضر شو چې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره صحابه کرام رضي الله عنهم ناست وو او جبريل عليه السلام د يو سړی) ځوان (په شکل کې راغلو چې نه پيژندلے کيدلو) چې دا ځوک دے؟ (او نه پرې د سفر اثرات ښکا ره کيدل تکې سپينې جامې ئ اغوستې) اچولې (وې ويخته ئ تک تور وو ، د نبی کريم صلی الله عليه وسلم مخې ته کينا ستلو، او نبی کريم صلی الله عليه وسلم د زنګنانو) ګوډو (سره ئ خپل زنګنان ولګلول او خپل لاسونه ئ د هغوي په ورون) پتونونو (باندې کیخودل ، هغه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره خبرې کړلې) چې سوالات وو(او نبی کريم صلی الله عليه وسلم د هغه سره خبرې وکړلې ) چې جوابات ئ ورکړل ( نو بيا روستو نبی کريم صلی الله عليه وسلم صحابه کرام رضي الله عنهم ته خبر ورکړو چې دغه شخص جبريل عليه السلام وو ) ځکه صحابه کرامو رضي الله عنهم نه وو پيژندلې(

زمونږ پدې خبره باندې ايمان دے چې ملائک په مختلفو کارونو باندې مکلف کړې شوي دي:

زمونږ پدې خبره باندې ايمان دے چې ملائک په مختلفو کارونو باندې مکلف کړې شوي دي په دوي کې جبريل عليه السلام په وحي راوړلو باندې مقرر دے، چې دغه وحی د الله تعالی په حکم باندې د هغه د طرف ته هغه چاته راوړي چې د الله خوښ شي ، چې هغه انبياء کرام او رسولان عليهم السلام دي ، ) چې دغه سلسله په محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې سرته ورسيدله(  جناب ميکائيل عليه السلام په بارانونو او نباتاتو باندې مکلف او مقرر دے ، جناب اسرافيل عليه السلام په شپيلۍ کې په

پوکې و هلو مقرر دے، کله چې قیامت قائمیږي او په خلقو به صعق او مرګ رازي او بیا به د قیامت په ورز د خلقو د راپورته کیدو او راغونډیدو په وخت کې هم پوکے کوي)حدیث کې رازي چې دوې دواړو مینځ کې به څلويښت کاله فاصله وي (په دوي کې ملک الموت د مخلوق د مرګ په وخت کې د هغوي د ارواحو قبض کولو باندې مکلف دے۔ ملک الجبال په غرونو باندې مقرر دے۔ او" مالک " په نوم د جهنم خزانچی) دربان (دے ، چې په اور مقرر دے۔ بعض ملائک په هغه ورو ماشو مانو باندې ) او په هغوي کې په روح اچولو (مقرر دي کوم چې د مائندو په رحمونو ) بچه دانئ (کې وي ، بعض نور ملائک د بنی آدم په حفاظت مقرر دي، بعض د دوي د اعمالو په لیکلو) کراما کاتبین (مقرر دید هر شخص د پاره دوه ملائک دیخې طرف او ګس طرف ته یو یو ملک تیار ناست دےخې طرف او ګس طرف ته یو یو ملک تیار ناست دے ، نه راوباسي دا انسان کومه خبره )د خولې نه (مګر د هغې په خواکې نګهبان ملک تیار) مقرر (دےسورت ق : .17-18بعض ملائک د مړی نه په سوال) تپوس (کولو مقرر دي چې کله هغه قبر ته وسپارلے شي، دوه ملائک ورته راځی او د ده نه به دده د دین او دده د نبی په باره کې تپوسونه کویمومنانو ته الله تعالی د صحیح جواب ورکولو توفیق ورکوي، لکه الله تعالی فرمائی:کلکوي الله تعالی مومنان په وینا مضبوطه باندې په دنیا او آخرت کې ، او ګمراه کوي ظالمان ، او کوي الله تعالی هغه څه چې ئ خوښه شيسورت ابراهیم.27 :بعض ملائک په اهل جنت باندې مقرر دي) چې د جنت په دروازو کې به د جنتیانو استقبال کوي(را داخلیږي به په دوي باندې ملائک د هرې دروازې نه،) وائی به ورته

(سلام دې وې په تاسو باندې ستاسو د صبر کولو په وجه ، ډير ښکلے )ښائسته ( انجام دے د کور) د جنتسورت رعد.24-23 :

او يقينا مونږ ته نبی کريم صلی الله عليه وسلم د دې خبر راکړے دے چې په) اوؤم (اسمان کې بيت المعمور ته روزانه ملائک داخليږي ، او بل روايت کې چې دا ملائک هلته مونځ کوي۔نو روزانه اويازره (70000) ملائک ور داخليږي ، او بيا هيڅ کله د دوي دوباره نمبر نه رازي

## فصل

زمونږ پا دی خبره ايمان دے چی الله تعالی پخپلو رسولانو باندی کتابونه نازل کړی دی چی هغوئ د مخلوق ) جن او انس ( د پاره حجت ګرځولی دی او د عمل کوؤنکو د پاره هم دليل ګرځولي دی ، انبياء کرام عليهم السلام به پدی کتابونو سره خپلو امتونو ته دحکمت تعليم ورکولو او د هغوی تزکيه ) د نفس پاکی ( به ئی کوله

زمونږ پدی خبره ايمان دے چی الله تعالی د هر رسول سره يو کتاب نازل کړے دے ، لکه چی الله تعالی فرمائی:يقينا راليږلی دی مونږه رسولان په واضحه دلائلو سره ، او مونږ نازل کړې وو د هغوی سره کتابونو او ميزان ، ددی د پاره چی ودريږی خلق په انصاف سورت حديد.25 :

په دغه اسمانی کتابونو کې مشهور دادی:

1۔ تورات:دا کتاب الله تعالی په جناب موسی عليه السلام باندی نازل کړے وو او بنی اسرائيلو ته د ټولو نه عظيم کتاب همدا راغلے وو ، ددی په باره کی الله تعالی فرمائی:پدی تورات کی هدايت او رڼړا وه ، فيصلی به کولی

په دی سره انبیاؤ ) علیهم السلام ( کوم چی تابعدار وو د دی د احکامو هغه خلقو ته چی یهود وو او الله والا خلقو او علماؤ ) به پری هم فیصلی کولی (په دی سبب چی د دوینه د الله د کتاب حفاظت غوښتلے شوے وو او دوی په هغی عالمان) پوهه ( وو.سورت مائده44.1 :- تورات:دا کتاب الله تعالی په جناب موسی علیه السلام باندی نازل کړے وو او بنی اسرائیلو ته د ټولو نه عظیم کتاب همدا راغلے وو ، ددی په باره کی الله تعالی فرمائی:انجیل :دا هغه کتاب دے چی الله تعالی په جناب عیسی علیه السلام باندی نازل کړے وو ، او دا کتاب د تورات تصدیق کوؤنکے او د هغی د احکامو اتمام کوؤنکے وو، لکه الله تعالی فرمائیسورت مائده.46 :او دغه شان الله تعالی فرمائی ):عیسی علیه السلام وفرمائیل ( او ددی د پاره چی زه حلال وګرزوم ) په بیان سره ( د بعضی هغه څیزونو چی حرام کړے شوی وو په تاسو باندیسورت ال عمران.50 :

زبور:دا کتاب الله تعالی داؤد علیه السلام ته ورکړے وو

4- د ابرهیم او موسی علیهما الصلاة و السلام صحیفی

5- قرآن مجید:دا هغه آخری عظیم کتاب دے چی الله تعالی په خپل خوږ نبی جناب محمد خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم باندی نازل کړے دے د دی عظیم کتاب په باره کی الله تعالی فرمائی:هدایت دے د خلقو د پاره او واضح دلائل پکی دی د هدایت او فرق کوؤنکے دے په مینځ د حق او باطل کئسورت بقره.185:تصدیق کوؤنکے دے د هغه کتابونو کوم چی ددینه مخکښے دی او ساتنه) حفاظت کوؤنکے ( دے په دغه کتابونو باندیسورت مائده.48 :الله په دی قرآن سره مخکنیۍ ټول کتابونه منسوخ

وګرځول او الله تعالی ددی د حفاظت ذمه داری اخستی ده چی د خبث کارونو والو او د تحریف کوؤنکو د کړ لیچ نه ئی محفوظ ساتلے دے لکه الله تعالی فرمائیژباړه :مونږ قران کریم ناز کړی دی او مونږ يې حفاظت په خپله کو.سورت حجر.9:دا حفاظت ئی ځکه وکړو چی دا کتاب به ترقیامته پورے په تمام مخلوق باندی حجت پاتی کیږی.او هر چی مخکنی کتابونه وو نو هغه تر یو محدود مودی پوری نازلیدل ، چی کله به ورپسی بل کتاب نازل شو نو هغه مخکنے به ئے منسوخ اوګرځولو او په مخکنی کتاب کی به چی څه تحریف یا تغیر شوے وو نو د هغی وضاحت به ئے کولو ، همدا وجه ده چی دغه کتابونه معصوم نه وو ) یعنی د تحریف لفظی او معنوی نه مفوظ نه وو ( ځکه په هغی کی تحریف ، زیادت او نقصان واقع شو لکه چی پدی خبره باندی دغه لاندینی تمام آیتونه دلیل دی:د هغه خلقو نه چی یهودیان دی ) داسی خلق شته ( چی تحریف کوی ) بدلوی کلمات د الله تعالی د کتاب ( د خپلو ځایونو نهسورت توبه.46 :پس تباهی ده د هغه خلقو د پاره کی لیکی کتاب پخپلو لاسونو باندی ، بیا وائی چی دا خو د الله تعالی د طرف نه دے ) دا کار کوی ( دوی د پاره ددی چې واخلی په هغی باندی قیمت لږ) دنیاوی مفادات (پس تباهی ده د دوی د پاره د و چی د هغه لیکلو چی د دوی لاسونو لیکلی دی او تباهی ده د دوی د پاره د و چی د هغه کسب نه چی دوی ئے کویسورت بقره.79 :ته ورته اووایه اے نبی : چا نازل کړے دے هغه کتاب چی راوړے وو هغی لره موسی علیه السلام چی رنړا او هدایت وو د خلقو د پاره ، تاسو ګرځولے دے هغی لره ټکړی ټکړی ، چی ښکاره کوئی ) بعضی احکام د هغی ( او پټه وئ ډیری خبریسورت

انعام.91:او بعض د دوینه یوه داسی ډله ده چی تاووی خپلی جبی په کتاب باندی دی دپاره چی ته ګمان وکړی په هغی باندی د کتاب نه او حال دادے چی هغه د کتاب نه نه وی ، او وائی دوی چی دا د الله د طرف نه دے او حال دا چی هغه د الله د طرف نه نه وی ، او دوی جوړوی په الله تعالی باندے دروغ ، او حال دا چی پوهیږی ) چی دا دروغ دی او باطل کار دے(نه دی جائز ) او ممکن ( د یو ) داسی (بشر د پاره چی الله تعالی دی هغه ته کتاب ، د دین پوهه او پیغمبری ورکړی وی او بیا دی خلقو نه داسی اووائی چی د الله نه سیوا زما بندګی کوؤنکی شئسورت ال عمران.79-78 :اے اهل کتابو ! یقینا راغلے دے تاسو ته رسول څمونږ چی بیان کوی تاسوته د ډیرو هغه ) احکامو ( چی تاسو پټ کړی وو د الله تعالی د کتاب نهسورت مائده : .15تردی قول پوری:یقینا کفر کړے دے هغه خلقو ) کافران دی ( چی څوک دا وائی چی یقینا الله تعالی چی دے نو هغه مسیح څوی د مریم دےسورت مائده.17 :فصلزمونږ پادی خبره باندی ایمان دے چی الله تعالی خپل مخلوق ته رسولان را لیګلی دیزیری ورکوؤنکی او ویره ورکوؤنکی ددی د پاره چی نه وی د خلقو د پاره په الله تعالی باندی ) دهغه مخی ته ( کومه بهانه ، روستو د رالیګلو د رسولانو نه ، او دے الله تعالی زورو ) غالب ( حکمتونو والاسورت نساء.165 :زمونږ پدی خبره ایمان دے چی په سلسله د رسولانو کی او جناب نوح علیه السلام وو او په دوی کی آخری جناب محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وو ـ لکه الله تعالی فرمائی:یقینا مونږه وحي کړی ده تاته ، لکه چی څنګه مونږه وهی کړی وه جناب نوح علیه السلام او هغه) رسولانو ( ته کوم چی د هغه نه روستو ووسورت نساء :

.16نه دے محمد ) صلی الله علیه وسلم ( پلار د یو نارینه ستاسونه ، لیکن د الله تعالی رسول او آخری شخصیت د پغمبرانو دےسورت احزاب40 :په دغه پیغمبرانو کی د ټولو نه افضل جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دے ، بیا جناب ابراهیم علیه السلام ، بیپه دغه پیغمبرانو کی د ټولو نه افضل جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دے ، بیا جناب ابراهیم علیه السلام ، بیا جناب موسی علیه السلام ، بیا جناب نوح علیه السلام ، او بیا جناب عیسی بن مریم علیه السلام دے ، او د دوئ خصوصیت او فضیلت ددی قول د الله تعالی د وجی نه دےاو هغه وخت چی مونږ پخه وعده اخستی وه د پیغمبرانو نه او ستانه او د نوح او ابراهیم او موسی او عیسی ځوئ د مریم ) علیهم السلام ( نه او د هغوی نه مې وعده اخستی وه دعده مضبوطهسورت احزاب.7 :زمونږ دا عقیده ده چی شریعت د محمد صلی الله علیه وسلم د دغه تمامو انبیاء کرام علیهم السلام په شریعتونو باندی کوم چی الله تعالی پخپل فضل سره مخصوص کړی وو حاوی شریعت دے ـ لکه چی الله تعالی فرمائیښکاره ګرځولے دے الله تعالی ستاسو د پاره هغه دین چی په هغی ئے وصیت کړے وو نوح علیه السلام ته ، او هغه دین چی مونږ ئے وحی کړی ده تاته او هغه چی مونږ په هغی باندی وصیت) کلک حکم ( کړے وو ابراهیم ، موسی او عیسی ) علیهم السلام ( ته ) هغه دا چی ( قائم کړئ ) کلک ودروئ په قانون ګرځولو سره ( دین او پدی کی تفرقی ) ډله بازی ( مه کوئسورت شوری.13:زمونږ پدی خبره ایمان دے چې تمام رسولان بشر وو ، د الله تعالی مخلوق وو ، په دوئ کی د ربوبیت صفات نه وو یعنی ) څه معبودات

او " الهة نه وو ( لکه چی الله تعالی د نوح علیه إلسلام چی پدی رسولانو کی اول وو ، په باره کی فرمائی ) چی نوح علیه السلام خپل قوم ته وئیلی وو( زه تاسو ته دا نه وایم چی زما سره خزانی دی د الله تعالی اوزه په غیبو باندی هم نه پوهیگم او دا هم نه وایم چی زه ملک ) د ملائکو نه ( یمسورت هود : .31دغه شان الله تعالی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کړے دے ، چی ددی رسولانو په سلسله کی آخری رسول دے ، چی هغه دی خپل امت ته داسی اووائی:زه تاسو ته دا نه وایم چی زما سره خزانی دی د الله تعالی اوزه په غیبو باندی هم نه پوهیگم او دا هم نه وایم چی زه ملک ) د ملائکو نه( سورت انعام.50:اوداسی ورته اووائی:زه اختیار نه لرم د خپل ځان د پاره د نفعی او نه د ضررر ، مګر هغه څه ) کیګی ( چی الله تعالی ئ غواړیسورت اعراف.188 :او دائی ورته هم وئیلی دی چی داسی دی اووائی:یقینا زه اختیار نه لرم ستاسو د پاره د ضرر او نه د فائدی ، ته اووایه یقینا ماله هیڅوک د الله تعالی نه نشی خلاصولے او زه هیچری نه مونده کوؤم د الله تعالی نه سیوا ځائی د پناهئسورت جن.22-21:زمونږ په دی خبره هم ایمان دے چی دا تمام انبیاء کرام علیهم السلام د الله تعالی بندګان وو ، الله تعالی دوی ته په رسالت سره عزت ورکړے وو، او په اعلی مقاماتو کی ئ د دوئ صفت په عبودیت سره کړے دے او په داسی مقام کی چی الله تعالی د دوی ثنا او مدح کوی نو د دوی بندګی ذکر کوی ، لکه الله تعالی د جناب نوح علیه السلام په باره کی فرمائی:اولاد د هغه چا چی کوم مونږ سواره کړی وو د نوح علیه السلام سره ) په کشتئ کښ (یقینا هغه د الله تعالی بنده وو شکر ګزارسورت اسراء.3:او د آخری رسول محمد مصطفی

صلی الله علیه وسلم په باره کی ئ فرمائیلی دی.برکتونو والا دے هغه ذات چی نازل کړے ئے دے فرقان ) فرق کوؤنکے کتاب په مابین د حق او باطل کی (پخپل بنده باندی دی د پاره چی شی د عالمونو ) انس او جن ( د پاره ویره ورکوؤنکیسورت فرقان.1:او د نورو رسولانو په باره کی ئ فرمائیلی دی.او رایاد کړه زمونږ بندګان ابراهیم او اسحاق او یعقوب ) علیهم السلام ( چی خاوندان د قوت او پوهی ووسورت ص.45:او را یاد کړه زمونږ بنده داود علیه السلام چی خاوند د قوت وو ، یقینا هغه ډیر ګرځیدونکے وو ) د الله طرف ته ( سورت ص.17 :او بخلے وو مونږه داود علیه السلام ته سلیمان علیه السلام ، ډیر غوره بنده وو، یقینا ډیر ګرځیدونکے وو ) الله طرف ته ( سورت ص.30 :او د جناب عیسی علیه السلام په باره کی ئی فرمائیلی دی.نه وؤ هغه مګر بنده وو ) د الله ( چی مونږ نعمت کړے وو په هغه باندی او مونږ ګرځولے وو هغه لره مثال د پاره د بنی اسرائیلوسورت زخرف.59:زمونږ پدی خبره ایمان دے چی د رسولانو سلسله په رسالت د جناب محمد رسول الله ﷺ سره ختمه شوه او سرته ورسیدله او محمد مصطفی ﷺ الله تعالی د تمامو خلقو طرف ته د رسول په حیثیت سره رالیګلے دے ،لکه چی الله تعالی فرمائی:اے خلقو یقینا زه رسول ) استازے ( یم د الله تعالی ستاسو د ټولو خلقو طرف ته هغه الله ) رسول ګرځولی یم ( چی د هغه د پاره بادشاهی ده د اسمانونو او ځمکی نشته دے هیڅ حقدار د عبادت سیوا د هغه نه ، هغه ژوندی کول او مړه کول کوی ، نو ایمان روړئ په الله تعالی او د هغه په هغه رسول چی نبی آمی دے ، هغه نبی چی )پخپل هم ( ایمان لری په الله تعالی او د هغه په کلماتو باندی او د دی نبی

تابعداری وکړئ ، دی د پاره چی تاسوته هدایت وشی.سورت اعراف.158:مونږ پدی خبره ایمان دے چکی د جناب محمد رسول الله ﷺ شریعت هغه دین دے کوم چی الله تعالی د خپلو بندګانو د پاره غوره کړے دے ، او الله تعالی د هیچانه د دی دین نه سیوا بل دین نه قبلوی ، لکه چی الله تعالی فرمائی:بے شکه د الله تعالی په نیز ) غوره کړی شوی او قبول کړی شوی ( دین اسلام دے سورت ال عمران.19:او دا قول د الله تعالی:ژباړه : ستاسو لپاره مي نن ورځ دین بشپړ او مکمل کړ ، او ستاسو لپاره په اسلام باندي د دین په توګه راضي یم.سورت مائده.3:او دا قول د الله تعالی:او چا چی لټلولو ) طلب کړو ( د اسلام نه غیر بل دین نو دا به هیچری دده نه قبول نه کړیشی او دا انسان به په آخرت کی د تاوان والو نه ویسورت ال عمران.85 :

سورت جن.22-21:

زمونږ په دی خبره هم ایمان دے چی دا تمام انبیاء کرام علیهم السلام د الله تعالی بندګان وو ، الله تعالی دوی ته په رسالت سره عزت ورکړے وو، او په اعلی مقاماتو کی ئ د دوئ صفت په عبودیت سره کړے دے او په داسی مقام کی چی الله تعالی د دوی ثنا او مدح کوی نو د دوی بندګی ذکر کوی ، لکه الله تعالی د جناب نوح علیه السلام په باره کی فرمائی:

اولاد د هغه چا چی کوم مونږ سواره کړی وو د نوح علیه السلام سره ) په کشتئ کښ (یقینا هغه د الله تعالی بنده وو شکر ګزار

سورت اسراء.3:

او د آخری رسول محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په باره کی ئ فرمائیلی دی.

برکتونو والا دے هغه ذات چی نازل کړے ئے دے فرقان ) فرق کوؤنکے کتاب په مابین د حق او باطل کی ( پخپل بنده باندی دی د پاره چی شی د عالمونو ) انس او جن ( د پاره ویره ورکوؤنکی

سورت فرقان.1:

او د نورو رسولانو په باره کی ئ فرمائیلی دی.

او رایاد کړه زمونږ بندګان ابراهیم او اسحاق او یعقوب ) علیهم السلام (چی خاوندان د قوت او پوهی وو

سورت ص.45:او را یاد کړه زمونږ بنده داود علیه السلام چی خاوند د قوت وو ، یقینا هغه ډیر ګرځیدونکے وو ) د الله طرف ته ( سورت ص.17 :

او بخلے وو مونږه داود علیه السلام ته سلیمان علیه السلام ، ډیر غوره بنده وو، یقینا ډیر ګرځیدونکے وو ) الله طرف ته ( سورت ص.30 :

او د جناب عیسی علیه السلام په باره کی ئی فرمائیلی دی.

نه وؤ هغه مګر بنده وو ) د الله ( چی مونږ نعمت کړے وو په هغه باندی او مونږ ګرځولے وو هغه لره مثال د پاره د بنی اسرائیلو

سورت زخرف.59:

زمونږ پدی خبره ایمان دے چی د رسولانو سلسله په رسالت د جناب محمد رسول الله ﷺ سره ختمه شوه او سرته ورسیدله او محمد مصطفی

ﷺالله تعالی د تمامو خلقو طرف ته د رسول په حیثیت سره رالیګلے دے ،لکه چی الله تعالی فرمائی:

اے خلقو یقینا زه رسول ) استازے ( یم د الله تعالی ستاسو د ټولو خلقو طرف ته هغه الله ) رسول ګرځولی یم ( چی د هغه د پاره بادشاهی ده د اسمانونو او ځمکی نشته دے هیڅ حقدار د عبادت سیوا د هغه نه ، هغه ژوندی کول او مړه کول کوی ، نو ایمان روړئ په الله تعالی او د هغه په هغه رسول چی نبی آمی دے ، هغه نبی چی) پخپل هم ( ایمان لری په الله تعالی او د هغه په کلماتو باندی او د دی نبی تابعداری وکړئ ، دی د پاره چی تاسوته هدایت وشی.

سورت اعراف.158:

مونږ پدی خبره ایمان دے چکی د جناب محمد رسول الله ﷺ شریعت هغه دین دے کوم چی الله تعالی د خپلو بندګانو د پاره غوره کړے دے ، او الله تعالی د هیچانه د دی دین نه سیوا بل دین نه قبلوی ، لکه چی الله تعالی فرمائی:

بے شکه د الله تعالی په نیز ) غوره کړی شوی او قبول کړی شوی ( دین اسلام دے سورت ال عمران.19:

او دا قول د الله تعالی:

ژباړه : ستاسو لپاره مي نن ورځ دین بشپړ او مکمل کړ ، او ستاسو لپاره په اسلام باندي د دین په توګه راضي یم.

سورت مائده.3:

او دا قول د الله تعالی:

او چا چی لټلولو ) طلب کړو ( د اسلام نه غیر بل دین نو دا به هیچری دده نه قبول نه کړیشی او دا انسان به په آخرت کی د تاوان والو نه وی

سورت ال عمران.85 :

او زمونږ دا رائ ده چی کوم مسلمان ) نعوذ بالله ( نن داسی دعوی وکړی چی د دین اسلام نه غیر بل دین هم د الله تعالی په نیز مقبول او قائم کیدلی شی لکه یهودیت او نصرانیت او یا د دینه غیر نو دینونه نو دا انسان پدی سره کافر ګرځی ، دده نه به د توبه کولو مطالبه کیدیشی ورنه ده ته به اسلامی حکومت د مرتد سزا ورکوی ، ځکه چی دا انسان د قرآن تکذیب کوؤنکے دے.

زمونږ دا عقیده ده چی چا د تمام عالم د پاره د محمد رسول الله ﷺ رسالت نه انکار وکړو نو دا انسان په تمام رسولانو کافر شو ، تردی پوری چی په هغه رسول هم کافر شو په کوم باندی چی دا د ایمان لرلو دعوی کوی او وائی چی زه د هغی تابعدار یم ، لکه چی الله تعالی فرمائی:

تکذیب کړے وو قوم د نوح علیه السلام د رسولانو.

سورت شعراء.105:دلته ئ دوی د تمامو رسولانو تکذیب کوؤنکی وګرځول ، حالانکه د نوح علیه السلام نی مخکښی خو رسولان نه وو تیر شوی او الله تعالی بل ځائی کی فرمائی:یقینا هغه کسان چی کفر کوی په الله تعالی او د هغه په رسولانو باندی او دوئ غواړی چی جدائی راولی په مابین د الله تعالی او د هغه د رسولانو کی او دوی وائی مونږ ایمان لرو په

بعضو باندی او انکار کوؤ د بعضو نه ، او دوی غواړی چی جوړه کړی ددی په مینځ کی بله لار.دغه خلق دوی پوره کافر دی په ریشتیا سره ، او مونږ تیار کړے دے د کافرانو د پاره عذاب رسوا کوؤنکے.سورت نساء.150-151:

دلته ئ دوی د تمامو رسولانو تکذیب کوؤنکی وګرځول ، حالانکه د نوح علیه السلام نی مخکښی خو رسولان نه وو تیر شوی او الله تعالی بل ځائی کی فرمائی:

یقینا هغه کسان چی کفر کوی په الله تعالی او د هغه په رسولانو باندی او دوئ غواړی چی جدائی راولی په مابین د الله تعالی او د هغه د رسولانو کی او دوی وائی مونږ ایمان لرو په بعضو باندی او انکار کوؤ د بعضو نه ، او دوی غواړی چی جوړه کړی ددی په مینځ کی بله لار.

دغه خلق دوی پوره کافر دی په ریشتیا سره ، او مونږ تیار کړے دے د کافرانو د پاره عذاب رسوا کوؤنکے.

سورت نساء.150-151:

زمونږ پدی خبره هم ایمان دے چی د جناب محمد روسول الله ﷺ نه بعد بل رسول او نبی دنیا ته نه رازی ، چا چی د هغوی نه وروسته د نبوت دعوی وکړله او یا چا د دغه دعوی کوؤنکی تصدیق وکړو نو داسی انسان یقینا کافر دے ځکه چی دغه انسان د الله تعالی ، د هغه د رسول او د اجماع المسلمین تکذیب کوؤنکے دے.

زمونږ په دی خبره هم ایمان دے چی د جناب نبی کریم ﷺ دپاره خلفاء راشدین رضی الله عنهم وو ، چی هغوی روستو په امت کی د علم ، دعوت

او په مؤمنانو باندی د ولایت په لحاظ سره د نبی کریم ﷺ خلیفه ګان شو، په دغه خلفاء راشدین ﷺ کی د ټولو نه افضل جناب ابوبکر صدیق رضی الله عنه وو چی د خلافت د ټولونه زیات حقدار وو ، بیا ور پسی عمر بن الخطاب رضی الله عنه ، بیا عثمان بن عفان او بیا علی بن ابی طالب ) رضی الله عنهم اجمعین ( وو

په خلافت کی هم د دوی داسی درجه او مرتبه او قدر و منزلت وو، لکه په فضیلت کی ، او هغه الله چی د لوئی حکمت خاوند دے داسی نه کوی چی په خیر القرون ) په پیړو کی بهترینه پیړئ ( باندی دی داسی یو سړے والی او ذمه دار ) مشر ( وګرځوې او حال دا چی د هغه نه دی غوره او د خلافت ډیر حقدار په دوی کی موجود وی

زمونږ پدی خبره هم ایمان دے چی په دی صحابه کرامو رضی الله عنهم کی کله کله یو تن چی په فضیلت کی به ښکته ) مفضول ( وو نو هغه هم په یو خصوصیت سره ممتاز شوے دے چی په دغه یو خصوصیت سره د خپل ځان نه افضل صحابی باندی ئی هم فوقیت حاصل کړے دے لیکن په دی سره هغه د مطلق فضیلت مستحق نه ګرزی په هغه چا باندی چی څوک دده نه په فضیلت کی پورته وی ، ځکه چی د فضیلت موجبات زیات او مختلف انواعو باندی مشتمل دی

زمونږ په دی خبره ایمان دے چی دا امت د تمامو ) مخکنو ( امتونو نه غوره او د الله تعالی په نیز ډیر عزت والا دے ، لکه چی الله تعالی فرمائی:تاسو غوره امت یئ ، راوخکلے شوی یئ د پاره د خلقو چی امر) حکم (

به کوئی د نیکۍ او منع به کوئ د هر بدئ نه او ایمان به لری په الله تعالی باندیسورت ال عمران :الآیة.110

تاسو غوره امت یئ ، راوخکلے شوی یئ د پاره د خلقو چی امر) حکم ( به کوئی د نیکۍ او منع به کوئ د هر بدئ نه او ایمان به لری په الله تعالی باندی

سورت ال عمران :الآیة.110

زمونږ ایمان دے چی پدی امت کی د ټولونه زیات غوره خلق صحابه کرام رضی الله عنهم وو ، بیا تابعین او بیا اتباع التابعین رحمهم الله او دا هم زمونږ د ایمان حصه ده چی په دی امت کی به یوه ډله همیشه په حق باندی قائمه وی ، څوک چی ددی ډلی مدد پریګدی او یا ئی مخالفت کوی نو هغوی ورته هیڅ ضرر نشی ورکولے ، تردی پوری چی د الله تعالی امر راشی ، ) قیامت قائم شی(

